مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال

۲۰۲۱/۰۱/۰۹

# هغه مهال، چې ظهر الدين بابراوسوري شېرشاه

## سترګه په سترګه شول

### دويمه برخه

د افغانانو په سياسي تاريخ کې د هندوستان دغه مهال د ډېر پام وړ دی چې ولې افغانانو خپله واکمني له لاسه ورکړه او ولې يې له لږې مودې وروسته بېرته خپله تولواکمني ټينګه کړه؟

د شپاړسمې (۱۶) پېړۍ په دويمې نيمايي کې د سردارانو او جاګيردارانو خپل مينځي جګړې او هم د سلطان ابراهيم لودي او بابر تر مينځ پرلپسې جګړو د هند د لوديانو واکمني پای ته ورسوله او بابر د هند واک ترلاسه کړ.

ولې کله چې افغانان بيا يو موټی شول او د خپل زړور، ځيرک او پياوړي مشر سوري شېرشاه تر شا ودرېدل له لاسه وتلی واک يې بېرته خپل کړ.

ولې کله چې د سوری شېرشاه زوی اسلام شاه ومړ نوبيا د هند قومي مشرانو د خپلې خپل سرۍ له مخې يو د بل پر وړاندې ودرېدل او مرکزي حکومت دومره کمزوری شو، چې د مغلو شړل شوی واکمن بېرته هندوستان ته راغی او بيا يې د هند چارې پخپل لاس کې ونيولې.

خو ځومره چې د شېرشاه د حکومت د واک او ځواک خبره ده. نوموړی د هند په تاريخ کې د هغه مهال هغه وياړلی او پياوړی واکمن دی چې د هند د نيمې وچې تاريخ اوس هم د ده کارنامې نه هېروي اوستا يې .

سره د دې چې د ده د واک په مهال د افغانانو قبايلي واک موجود وه ولې بيا هم نوموړي په ډېر مهارت د شمالي هندوستان په بېلابېلو سيمو کې د داسې حکومت بنسټ کېښود، چې له لودي بهلول نه يې تولواکمني ټينګه او غښتلې وه. ده له جاګيردارانو او درباريانو سره داسې چلند خپل کړ، چې هم يې دوی له ځانه خوشاله کړل او هم يې د ماليې ټولولو سيستم داسې دود کړ، چې هر جاګيردار پرته له کوم جنجال نه د خپلې شتمنۍ ماليه ورکوله او سوري شېرشاه ور باندې پياوړی پوځ په پښو ودروه. ده په ډېرې ځيرکتيا قومي مشران په ځان را ټول کړل چې هر شتمن په خپل زړه د حکومت د ټينګښت لپاره له پاچا سره مرسته کوله. تر هغې چې دغه شتمن په ځان پوهېدل، ده د يوه با ثباته مرکزي حکومت ستنې دومره پياوړې کړې وې، چې هېڅ يوه قومي مشر د دې وس نه درلود چې د ده په وړاندې ودرېږي.

شېرشاه د سياسي ژوند له لومړيو شېبو نه دېته ځير وه، چې لومړی بايد ځان په سياسي او اقتصادي لحاظ پياوړی کړي او بيا دېته ملا وتړي چې څرنګه واک ترلاسه کړي؟ «فريد خان (وروسته مشهور په شېرشاه) د پلار يانې د حسن خان له مرګ نه وروسته داسې يو فرمان تر ګوتو کړ، چې د پلار منصب ده ته ورکړ شي... له بده مرغه سلطان ابراهيم لودي په شهادت ورسېد... دی په دې فکر، نه چې د پښتنو د سياسي واک کمپله له هند نه ټوله شي. نو ځکه بيا د بهادر خان حضور ته لاړ. نوموړی د لواڼي دريا خان زوی وه چې د لودي ابراهيم له مرګ نه ورسته يې په «پهار» کې د سلطان محمد په نوم د سلطنت اعلان وکړ.(۱)

همدارنګه نوموړي لدې سربېره له سلطان «جنيد» سره هم خپلې اړيکې ټينګې کړې، چې په هند کې د يوه سياسي باور څښتن شي. که سلطان محمد ده ته د شېرشاه لقب ورکړ، خو سلطان جنيد بيا د بابر دربار ته له ځان سره يووړ.

د تاريخ مرصع په قول «يوه ورځ طعام په دستور د ولايت چې هغو بادشاهانو به په روی د مجلس طعام خوړ... بابر د جنيد مشر ورور ته ووې چې دا پښتون ډېر عاقل او با تدبيره ليده شي او نخښې د دولت او سلطان په وچلي کښ د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ده ښکاره دي... شیر خان له خوځېدو د شونډو پوه شو... بې رخصت د جنید او بادشاه روان شه... بابر خلیفه ته وفرمایل چې زه د له قید د هغه منع کړم زر به ډېرې فتنې فساد له ده ظاهر شي.»(۲)
شېرشاه بیا د بهار له سلطان سره یو ځای په هغه جګړه کې برخه واخسته چې یو شمېر کسانو غوښته چې بهار له پښتنو مشرانو او سردارانو څخه ونیسي ولې سوبه د پښتنو په بري پای ته ورسېده.
شیرخان په دغه جګړه کې د پښتنو د یو شمېر قومونو له مشرانو او سردارانو سره هم بلد شو، چې موږ د لوانیو د سوریانو، کاکړو سروانیو مشران د بېلګې په توګه یادولی شو. د شېرشاه لپاره دا یو مهم سیاسي خوځښت وه چې په پښتنو سردارانو کې د پام وړ باور ترلاسه کړ.
ده به تل ویلې چې زه د پښتنو له نا یووالي نه وېرېږم، خو اوس چې یې ولیدل د قومونو مشران یې تر شا ولاړ دي .نو هوډ یې وکړ چې هرومرو به بنګال نیسي.
سراولف کیرو هم دې ټکي ته په اشاره کښلي دي:
«د شېرشاه په هر ځای کې دا هڅه وه چې افغانان او پښتانه یو موټی کړي... تر ټولو مهمه دا وه چې دی د کلکې ارادې څښتن وه او په ډېرو چارو کې ساری نه درلود...»(۳)
شېرشاه د خو لاملونو له مخې ډېر ژر په ډراماتیکه توګه پرمختګ وکړ:
- لومړی دا چې دی د یوې نظامي پوهې څښتن وه او له همدغه برکته یې د «روهتاس» کلا ونیوله چې نظامي ارزښت یې هم درلود او جغرافیوي ارزښت هم.
- له «لاد» ملکې سره د ده واده او د هغې له شتمنیو نه نظامي او اقتصادي ګټه او هم د دې د «کوټ» له کلا نه د نظامي ځواک او واک استفاده.
- کله چې «لاد» ملکې ده ته پنځوس زره سره زر ولېږل نوموړي د همدغې شتمنۍ له مخې یو لوی لښکر جوړ کړ.
- د لودي ابراهیم مېرمنې بي بي فتحې هم ډېر شته نوموړي ته ورکړل چې ځنې څېړونکي انګېري: «بي بي فتحې د خپل څښتن له شهادت نه وروسته د ګورګانیانو له وېرې د هندوستان لمر ختیځ لور ته چې سل منه سره زر لس منه قېمتي ملغلرې او په منو منو سپین زر ورسره وو سوري شېرشاه ته ورغله...»(۴)
له یوې خوا سوري شېرشاه د هرې ورځې په تېروېدو ځواکمن کېده او له بلې خوا د بنګال په ګډون ځنې سیمه ییزې واکمنۍ مخ په ځوړه رواني وې. خو کله چې د بنګال پاچا ومړ... د شېر خان ځواکونو ډېر ژر بنګال ته مخه کړه او پدې کار یې د همایون واک وګواښه.
د مغلو پوځ په ډېرې چټکۍ د کوړټ کلا ته ځان ورسوو. ولې شېرخان لا د مخه تول شته د روهتاس کلا ته له ځان سره وړي وو. ولې بیا هم مغلي ځواکونو د جلال خان له پوځ نه سخته ماته وخوړه او ډېر شته ترې پاتې شول اودوی وتښتېدل.
همایون بیا د یعقوب بیګ او بیرمخان په مشرۍ یو ستر پوځ د جلال خان مقابلې ته ولېږه، ولې بیا هم د جلال خان له لاسه یې ماته وخوړه.
د شېرخان ا و مغلي همایون د ځواکونو تر مینځ یو د بل پسې خونړي جنګونه وشول، ولې د شېر خان برخلیک هغې جګړې وټاکه چې:
د شېرخان او همایون په ګډون ډېر نامتو سردارانو په هغه جنګ کې برخه اخستې وه، چې د همایون له لوري نه «تروي بېک»، «بېک برې»، محمد فرملي، میر یوز کاومردانه محمد صاحب مردانه او نورو په کې ګډون درلود.
همدا رنګه د شیرخان ملګري چې په دغه جنګ کې ښکېل وه هر یو هیبت خان نیازي، اعظم همایون سرواني لکپور، قطب خان لودي، حاجي خان، بلند خان، یوسف خان سرواني، بجلیخان سرواني، اد م خان تبتي، خواص خان، عیسی خان نیازی، جلال خان او عادل خان (د ده ورسره دوه زامن) او جلال خان نیازی د ساري په توګه یادولی شو.»(۵)
پدغه جګړه کې نه یوازې د همایون پوځ سخته ماته وخوړه بلکې همایون له ډېرې وېرې نه د ګنګا سین ته ځان وغورځوه خو که چېرې یوه ماشکي چې سناچ یې تیار پو کړی وه له سین څخه نه وای را ایستلی نو مړ به وای.
«لدې ماتې وروسته همایون نور په اګره کې ټینګ نشو او د لاهور په لور وخوځېد. بیرم خان د عبدالوهاب په مرسته د عیسی خان لاسته ورغی، چې بیایې د شېرشاه حضورته بوته. نوموړي نه یوازې دی وبانه بلکې یو آس یې هم ورته ورکړ او ګجرات ته یې و رسوه، چې له هغه ځایه د شیخ جمال زوی شیخ ګدا په مټ همایون پورې ورسول شو.»(۶)
شېرشاه چې د بنګال په هر اړخیز اهمیت پوه وه، د ډېرو هلو ځلو په پایله کې په ۱۵۳۸ کال په دې بریالی شو، چې د هغه پلازمېنه «ګور» و نیسي، د همدې ګور نیول لکه د هندوستان د ټولو خزانو کلي چې شېرشاه سوري ته په لاس ورشي. ده له ګور نه ټوله خزانه هغې ټینګې کلا ته چې هېڅ ځواکمن نه وه نیولې یوړه چې هغه د روهتاس کلا نومېده.
په مخزن کې په دې اړه را غلي دي: «له ګور نه دومره خزانه د شېرشاه سوري په لاس ورغله چې د لېږد دومره وسیلې شېرشاه سره نه وې چې دا روهتاس کلا ته وچلوي نو بیا جلال خان هغه پیلان، اسونه او اوښان چې د «ګړهی» له یو ناڅاپي برید نه ترلاسه کړي وه شېرشاه ته واستول او ټوله خزانه یې پرې وچلوله.»(۷)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سوري شېر شاه د همدې خزانو په برکت دومره پياوړی پوځ له افغانانو نه جوړ کړ چې په ۱۵۳۹ کال يې دښمن ته په «چوسا» CHAUSA نومي ځای کې ماته ورکړه.
«په رښتيا چې د شېرشاه ډېره پاملرنه د دې موجب شوه چې ټول بنګال په جنوب ختيځ کې تر چټاګانګ پورې او شمال ختيځ کې د اسام تر غرو غزېدلې وه ټينګ وساتي.»(۸)
همايون لا د مخه په وارو ار له سوري شېرشاه نه غوښتې وه چې د بنګال په ځای به ده ته د هندوستان ډېرې سيمې لکه بهار او جونپور ورکړي خو هغه ونه منله.
شېرشاه ته او له ده نه وروسته نورو ته هم بنګال ډېر ارزښت درلود ان شېرشاه چې د ډيلي تخت هم ونيو بنګال ته يې ځانګړې پاملرنه لرله، ابن بطوطه چې په ۱۳۳۶ کال بنګال ليدلی وه: «د دې هيواد په بې ساري شتمنی او د خلکو د سوکالی او خوشالۍ نه په ډېرو ښو ښو کلماتو غږېدلی دی.»(۹)
«بابر په بابر نامه کې کښلي دي چې بنګال د خزانو په ډکولو او راټولولو کې ځانګړی امتياز لري... کوم واکمن به چې د خزانې لګښت ته پام نه کوه نو هغه يې ګناه ګار باله.»
که څه هم په بنګال کې د پښتنو د شمېر د زياتوالي لاملونه ډېر دي خو د لومړي ځل لپاره چې ګڼ شمېر پښتانه هلته مېشت شول هغه د حبشي پاچا سلطان شمس الدين مظفرشاه (۱۴۹۱ – ۱۴۴۹) د واکمنی مهال وه چې پښتانه د دوی د پوځ برخه شوه.
همدا رنګه په بنګال کې د سيد د کورنی بنسټ ايښودونکي علاوالدين حسين شاه هم (۱۴۹۸ – ۱۵۱۷) ډېر افغانان پخپل لښکر کې ځای پر ځای کړل. ولې کله چې لودي ابراهيم د پاني پټ په جګړه کې ومړ بېخي ډېر پښتانه بنګال ته کډه شول. ان تر دې چې د سيدانو يو سلطان نصرت شاه (۱۵۱۷ – ۱۵۳۲) د لودي ابراهيم لور ځانته واده کړه.
او د نوموړي دوه نورې لورګانې يوه د فېروز خان مېرمن وه او بله يې چې د شېرشاه زوی ته ورنکړه نو بيا يې سکندر ته ورکړه، يو زوی هم وه چې هغه بندي کابل ته واستوه. په پای کې افغانان په بنګال کې دومره ډېر شول چې دغه ځای د دوی د يوه سياسي او نظامي مرکز په ډول د هر واکمن لپاره د پام وړ وګرځېد.
همدا لامل وه چې ځيرک او اوښيار شېرشاه د خپل واک د پراختيا او پرمختيا لپاره له بنګال نه د يوه ښه سياسي مورچل په توګه استفاده وکړه.

( نور بيا)


دتاريخي مرصع تاريخی خېرنه۶۱مخ
ختک افضل خان په برټش کتابتون کې قلمي نسخه۲۶۶مخ
سراولف کارو پټانز ۲۲۱ مخ
سنګر وال دتا ريخ مرصع تاريخي څېړنه ۷۱ مخ
هروي نعمت الله مخزن افغاني ۱۱۴ مخ
ډاکترمحمدعبد الرحيم په هند کې دافغانانو تا ريخ۱۸۱ مخ
ابن بطو طه ۲ ټوک ۱۷۹ مخ
ختک افضل خا ن تا ريخ مرصع ۲۳۹ مخ
پا لنپوري مفتي محمد تاريخ هند۱۳۷مخ
ډاکترمحمد سليم قراتي هندوستان سياسي...۲۷۲ مخ
عباس خان برټش کتابتون ۷۵ مخ الف




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ